مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۲۰

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اوومه برخه)

### سید جمال الدین افغاني

په ۱۸۳۸ز کال کې زېږېدلی دئ. زښت ډېر مشهور او د نیک نوم خاوند اسلامي تجدد پلوی او د پان اسلامیزم ترویج کوونکی وو. د هندوستان، مصر، فارس او د عثماني سترواکۍ په اسلامي نړۍ کې خورا فعال مبارز وو. د اروپا د پوځي او تکنالوژیکي ځواک پر ضد چې اسلامي نړۍ ئې د ورانۍ تر تهدید او ګواښ لاندې نیولې وه اسلامي یو والي او اتحاد راپاراوۀ. سید د مسلمانو واکمنو مشاور وو. د ۱۸۶۰لسیزې په اوږدو کې افغان واکمن ورڅخه سلا مشوره اخیستله، او د ۱۸۷۰ز لسیزې په اوږدو کې د مصر واکمن ته ئې مشورې ورکړې. په پای کې د عثماني سلطان، په دربار کې وو. وروسته له دې چې د سید یوۀ پیرو پارسي واکمن نصرالدین شاه ووژۀ، سید ته خلکو په ښـۀ نظر نـۀ کتل. سید په ۱۸۹۷ز کال کې په استانبول کې د اوږد مهالي ناروغی له کبله وفات سو چې کېداې سي د زهر د ورکولو له کبله وژل سوی وي. د سید جمال الدین افغاني د اصل او نسب په هکله دوه متضاد نظرونه دي : دی په خپله وایي چې افغان دئ او دا نظر په عام ډول منل سوی دئ، او افغان علما لکه محمد امین خوګیاني په خپل اثر *حیاتِ سید جمال الدین افغان* کې د همدې نظر ملاتړ کوي. خو د ایراني او لویدیځو علماوو په نظر، سید جمال الدین یو ایرانی دئ. وګورئ د ایرج افشار او د اصغر مهدوي کتابونه : مجموعـۀ اسناد و مدارک چاپ نا شده در بارۀ سید جمال الدین مشهور به افغاني : تهران ۱۹۶۳. او لویدیځ کتابونه په لمن لیک کې [1] مؤلف د برتانیي په آرشیفونو کې داسي مواد موندلي دي چې د Keddie د نظر ملاتړ کوي. همدا شان په سراج الاخبار کې د افغاني په هکله یوه مقاله خپره سوې ده چې مؤلف موندلي ده ۲۲ سنبله / وږی، ۱۲۹۰، او ۱۲۹۰کال د میزان/ تلې ۲۱ چې محمود طرزي په دې اړه خپل نظر لیکلی دئ.

### عبدالله افغان نویس

د جلال آباد بومي اوسېدونکی. په ۱۹۵۶ز کال کې په دریو ټوکونو کې د دري- پښتو قاموس لیکوال، او په ۱۹۶۱ز کال کې د لغات عامیانه – فارسي- افغانستان لیکوال چې د دري اصطلاحاتو یو مشهور قاموس دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې وفات سوی دئ. له یوې انګلیسی مېرمني سره ئې واده کړی دئ او دری زامن لري.

[1] - Nikki R. Keddie Religion and Rebellion in Iran 1966 and Sayyid Jamal – ad- Din-al-Afghani a biography


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## امین افغان پور

ٖله یوې لوګرۍ کورنۍ څخه دئ. وروڼهٔ ئې : د کابل پوهنتون عنایت الله رشید او ثنا الله ثناؔ؛ په ۱۹۴۶ز کال کي زېږېدلی دی. له ۱۹۶۹ز کال راوروسته په بېلابېلا افغان ورځپانو کي ژورنالیست. په ۱۹۷۴ز کال کي د راډیو افغانستان کارکوونکی. په ۱۹۷۸ز کال کي د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د کلتور مرستیال وزیر. د لنډو داستانونو او بېلابېلو افغان ورځپانو او مجلو ته د مقالاتو لیکوال. د ۱۹۷۸ز کال د ډسمبر په میاشت کي د هېواد د ورځپاڼي سرمحرر. د حفیظ الله امین د رژیم له ړنګېدلو وروسته یو ځل بیا ژورنالیست.

## شیخ محمد حسن رضاء افشاري

په ۱۹۸۰ز کال کي د علماوو او روحانیونونو د عالي شورى غړى. ویل کېږي چي د شیعه ګانو د ټولني استازى دئ. د شوروي آذربائیجان په ګډون ئې شوروي اتحاد ته سفرونه کړي دي.

## عبدالحمید آګه [2]

د بابه قل زوی د اندخوی په عرب شاه پائین کي په ۱۹۳۳ز کال کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کي د خان چار باغ له لومړني ښوونځي فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کي د کابل له دارالمعلمینو څخه فارغ سوی دئ. د معارف د ریاست په کتابتون کي کتابدار. د رسامی، خطاطی او موسیقی متخصص. د موسیقی د چنګ آله غږوي. په افغان ژبو سربېره په تورکي او انګلیسي هم خبرې کوي.

**شریف آژیر**: وګورئ : آژیر

## محمد کاظم آهنګ

د هرات ٖیا کوهدامن؟ بومي اوسېدونکی. د کابل له دارالمعلمینو او د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. د ۱۹۵۰ز لسیزې په وروستیو کي ئې د امریکا په متحده ایالاتو کي تحصیل وکړ. د کابل په پوهنتون کي ئې د ژورنالیزم تدریس وکړ. د خلقیانو د واکمنی د پیل په لومړیو کي د کابل ټایمز سرمحرر وو. په افغانستان کي د ژورنالیزم د تأریخ په هکله د کتاب مؤلف.

**احمد علي لودین** : وګورئ : لودین

## احمد شاه آصفي

سردار، محمد زی. د سردار محمد آصف خان زوی. د ۱۸۸۹ز کال په شاوخواوو کي د هندوستان په دهرا دون کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۰۱ز کال کي افغانستان ته راستون سوی دئ. ٖد شاغاسي علي احمد خانٖ له خور سره ئې وادهٔ کړی دئ ٖشاغاسي علي احمد خان یو وخت د کابل والي وو او د امیر امان الله د خور مېړهٔ دئٖ همدا شان احمد شاه له یوې بلې مېرمني سره هم وادهٔ کړی دئ؛ دا ښځه د مور له خوا د اعلیحضرت شیرعلي خان له اولادونو څخه ده. د اعلیحضرت امان الله یاور. په ۱۹۲۹ز کال کي د هندوستان له لارې اروپا ته لاړ او د حبیب الله کلکاني پیام ئې نادر

---

[2] - Abdul Hamdi Aga

خان ورساوۀ. د ۱۹۳۰ز کال په لومړيو کې کابل ته راستون سو. د ۱۹۳۰ز کال د اپریل په میاشت کې د دربار وزیر مقرر سو. د ۱۹۳۲ز کال د مارچ په میاشت کې د پادشاه په وکالت د مکې زیارت ته لاړ تر څو له سعودي عربستان سره د دوستۍ د تړون خبرې وکړي. د احمد شاه مشره لور حمیرا په ۱۹۳۱ز کال کې د نوامبر په میاشت کې اعلیحضرت ظاهر شاه ته وادۀ سوه. د ۱۹۳۶ز کال د نوامبر په میاشت کې ئې له هند څخه لیدنه وکړه. د احمد شاه څلور خویندې په ترتیب سره اعلیحضرت نادر شاه ته، (د نادر شاه ورور) محمد عزیز خان ته، عبدالغني خان ته او محمد اکبر خان ته وادۀ سوي دي. زامن ئې : همایون اوس په فرانسه کې دئ؛ تیمور شاه « د ظاهر شاه له کشرې خور» بلقیس سره وادۀ کړی دئ او هارون. په ۱۹۵۲ز کال کې وفات سو.

## احمد شاه

د ظاهر شاه مشر زوی په ۱۹۳۴ز کال کې زېږېدلی دئ. د کابل له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ او په ۱۹۵۹ز کال کې ئې په فرانسي کې پوځي زده کړې او سیاسي علوم ولوستل. په ۱۹۶۱ز کال کې افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۶۳ز کال کې د سرې میاشتې رئیس. (د ۱۹۷۳ز کال په جولای کې د داؤود د کودتا د شپې په ګډون بهر ته د شاه د سفرونو په غیابت کې نایب السطنة. سره له دې چې ولیعهد ګڼل کېدۀ خو هېڅکله ئې دغسې ادعا نۀ وه کړې. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې له ایران څخه؛ او په ۱۹۶۶ز کال کې ئې د شوروي اتحاد له سوسیالیستي جمهوریتونو څخه لیدنه وکړه. د محمد عمر زکریا له لور خاتول سره ئې وادۀ کړی دئ او دوه ماشومان لري. له ۱۹۷۳ز کال را وروسته په ایټالیا کې او له ۱۹۸۲ز کال را په دېخوا د امریکا په متحده ایالاتو کې استوګن دئ.

## عبدالغفور احمدي

په ۱۹۱۱ز کال کې زېږېدلی دئ. د کابل په دارالمعلمینو او د اندیانا په پوهنتون کې ئې تحصیلات کړي دي. د کابل، ننګرهار او د هرات د ولایتونو د معارف د مدیریتونو مدیر. د تألیف د ریاست مرستیال رئیس. د معارف د وزارت د معارف د مطبوعاتو رئیس. د معارف د وزارت مشاور. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## انجنیر احمدالله

په ۱۹۲۵ز کال کې د پغمان په قاضي خیلو کې زېږېدلی دئ، (د حفیظ الله امین د اکا زوی او د خروټي له کورنۍ څخه). د بابای خودي په ښوونځي، د حبیبې په لیسې، د کابل پوهنتون د ساینس په پوهنځي کې ئې تحصیلات کړي دي او همدا شان د امریکا په متحده ایالاتو کې د یوتا په پوهنتون کې ئې تحصیل کړی دئ. د صوف د درې د سکرو د ډبرو «ذغال سنګ» د کان عمومي مدیر، د «کرکر» د سکرو دډبرو د کان رئیس؛ په ۱۹۶۴ز کال کې د جوزجان والي، په ۱۹۶۵ز کال کې د کندز والي؛ او په ۱۹۶۵ز کال کې فواید عامې / ټولګټو د وزارت وزیر. د ۱۹۶۷ز کال په ترڅ کې د میوندوال په کابینې کې د کورنیو چارو وزیر وو. وروسته د کانونو او صنایعو د وزارت سلاکار/ مشاور. په ۱۹۷۳ز کال کې د غوري د سمنټو د فابریکې رئیس او ورپسې بیکاره سو. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده. او د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ډاکټر غلام نبي احمد يار

د ۱۹۴۳ز کال په شاوخوا وو کې په هرات کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې ئې د کابل پوهنتون د ښووني او روزني له پوهنځي څخه ليسانس تر لاسه کړی دئ. له کاناډا څخه ئې په ښووني او روزني کې خپله ماستري او دکتورا تر لاسه کړې ده. په ۱۹۷۹ز کال کې د کابل پوهنتون د څېړنو د تحقيقاتو د مرکز مدير. د لوړو او مسلکي زدکړو د وزارت اداري رئيس. د کابل پوهنتون د ښووني اوروزني د پوهنځي رئيس.

## احمد ظاهر

د پخواني صدراعظم، ډاکټر عبدالظاهر زوی په ۱۹۴۷ز کال کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې په کابل کې او لوړې زده کړې ئې په هندوستان کې کړې دي. ۲۴۰ نامتو سندرې ئې ويلي دي. د ۱۹۷۹ز کال د جون د مياشتي په ۱۴ نېټي د يوې ترافيکي پېښې په ترځ کې ووژل سو،(د يو شمېر نورو سرچينو پر بنسټ په قتل ورسېد). درې ځله ئې ودونه کړي دي. د رشاد او شبنم په نومونو دوه بچيان لري.

## عبدالغني احمدزی

په ۱۸۹۵ز کال کې د لوګر په سرخاب کې زېږېدلی دئ؛ دی د احمدزيو يو ډېر مهم قومي مشر دئ. تحصيلات ئې په کابل او په حربي ښوونځي کې کړي دي. د اعليحضرت امان الله پر مهال په بېلابېلو پُستونو کې يو پوځي افسر وو. په ۱۹۱۹ز کال کې ئې د برتانويانو پر وړاندې جګړه وکړه او هم ئې د کورنيو جګړو په لړ کې د حبيب الله کلکاني پر ضد جګړه وکړه. حبيب الله کلکاني زنداني کړ خو د احمدزيو د قبيلې د خلکو په مرستي له زندانه په تېښتي بريالی سو او د حبيب الله کلکاني پر ضد ئې د نادر شاه ملاتړ وکړ. نادر شاه هم افتخاري جنرال «اعزازي فرقه مشر» جوړ کړ. د مرکزي ځواکونو، قوای مرکز مشر. په ۱۹۶۶ز کال کې وفات سو. د شاه پور احمدزي اکا؛ زامن ئې : هادي غني په پاريس کې دی؛ شاه جهان غني (تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ترانسپورت رئيس)؛ ډاکټر عبدالقيوم کوچی (د باندنيو چارو د وزارت رسمي مأمور)؛ اکمل غني (د باندنيو چارو د وزارت رسمي مأمور)؛ ډاکټر محمد اشرف غني (د امريکا په متحده ايالاتو کې پوهاند/ پروفيسر)؛ او ډاکټر احمد شاه غني (د کابل پوهنتون استاد)

## نور بيا

## شاه جان غني احمدزی

د جنرال عبدالغني احمدزي زوی، په...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ